# زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وم چې هغه د خلکو يو ډېران ته ورغی او په ولاړه يې ادرار وکړې،

له حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وم چې هغه د خلکو يو ډېران ته ورغی او په ولاړه يې ادرار وکړې، زه څنګ ته شوم، راته يې وويل: «رانږدې شه» نو ورنږدې شوم تر دې چې د اورو سره يې ودرېدم، نو اودس يې وکړ او په موزو يې مسحه وکړه.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

حذيفة بن اليمان رضي الله عنه روايت کوي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره و، هغه صلى الله عليه وسلم غوښتل چې ادرار وکړي، نو د حاجت رفع کولو لپاره د خلکو يو کنډر ته ننوت، کوم ځای کې چې خلک د کورونو له جارو کولو وروسته خاورې او خځلې غورځوي (ډېران)، نو په ولاړه يې متيازې وکړې؛ په داسې حال کې چې معمولا به يې په ناسته کولې. نو حذيفه رضی الله عنه ترې لرې شو، هغه صلى الله عليه وسلم ورته وويل: نږدې شه، نو حذيفه ورنږدې شو، تر دې چې شاته يې د پښو وروست برخې (پوندو) سره ودرېد؛ چې د لېدلو په وړاندې يې پرده شي او په هغه حالت کې ورته ونه ګوري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم اودس وکړ او د پښو مينځلو پر مهال يې موزې ونه ويستې او مسح يې پرې وکړه - هغه موزې چې پښو ته اغوستل کيږي او له نر خرمنې او داسې نورو څخه جوړيږي او ښنګرې پټوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3075

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee